# د ژوند درسونه

## (هغه جملې چې ژوند مو بدلولای شي!)



رياض مقامزی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند درسونه

## (هغه جملې چې ژوند مو بدلولای شي!)

ليکونکی: رياض الله مقامزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**"زما ټولو ښوونکو ته چې له برکته یې یو څو توري لیکلای شم."**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو څو خبرې


په ژوند کې مثبت بدلون او پرمختګ د هر انسان هیله ده؛ خو دا بدلون دومره آسانه هم نه وي. ځکه چې موږ باید تر ټولو لومړی پر ژوند پوه شو؛ په داسې حال کې چې پر ژوند پوهېدل ډېر وخت غواړي. ځکه چې د ژوند تر ټولو ښه درسونه، تجربې دي او د تجربو لپاره باید خپل عمر او وخت نذرانه کړو. موږ باید عمر تېر کړو ترڅو له ژونده درس او پند واخلو. نو آیا ښه نه ده، چې د پخوانیو خلکو له تجربو ګټه واخلو؟ هغوی چې له موږ وړاندې تېر شوي، ژوند یې کړی او د ژوند پر رموزو پوه دي؟

فکر کوم همدا به یې بهترینه لاره وي. ددې کتاب محتوا هم همداسې ده. ما هڅه کړې، چې د نړۍ د نامتو لیکوالو له ځینو مهمو ویناوو څخه د ژوند درسونه ترلاسه کړم. تاسو به لومړی د هر لیکوال پېژندنه ولولئ او ورپسې یې د ویناوو شرحه ولولئ، کومې شرحې چې کولای شي ستاسو په فکر، کړو وړو او ژوند کې یو مثبت بدلون راولي. په دې هیله، چې د کتاب تر لوستلو وروسته پخپل ځان او فکر کې یو ښه بدلون حس کړئ!

درنښت!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هوگو



هوگو په نولسمه زېږدیزه پېړۍ کې په ځانګړې توګه د فرانسې او په کُل کې د ټولې نړۍ نامتو لیکوال او شاعر دی. د نوموړي بشپړ نوم ویکټور هوگو (Victor Hugo) دی. دې ستر لیکوال په "۱۸۰۲" زیږدیز کال کې د فرانسې هېواد په بزانسون سیمه کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. ویل کېږي چې نوموړی ډېر کمزوری ماشوم و، نو اکثرو خلکو هیله نه لرله چې هوگو دې ګوندې ژوندی پاتې شي. مګر د خلکو د وړاندوینې برعکس هغه ژوندی پاتې شو او یو ستر لیکوال ترې جوړ شو .

هوگو لومړنۍ زده کړې په پاریس کې وکړې. له یو څه مودې وروسته یې په شعر، لاتیني ژبه او ریاضي کې ښه نوم وویست. هوگو خپله شاعري د مکتب په دوره کې پیل کړه او شاعرۍ یې په ښوونځي کې مډال وګټه. په همدې وخت کې ورته د فرانسې بل نوموتي لیکوال "شاتوبریان" د "عالي ماشوم" لقب ورکړ.

د هوگو شعري ټولګه په ۱۷ کلنۍ کې چاپ شوه. چې خلکو یې ښه هرکلی وکړ. په یوویشت کلنۍ کې د فرانسې پاچا لخوا پر دندې وګومارل شو او دوه زره فرانکه یې معاش و. په هغه وخت کې دا ډېرې پیسې وې. په همدې توګه هوگو سیاسي لوبې ته هم ور ودانګل. له دې کبله یې په ژوند کې ډېرې لوړې ژورې هم ولیدې.

ددې ستر لیکوال ځینې مهم اثار عبارت دي له: ((هغه سړی چې خاندي، بېنوایان، د خزان پاڼې، د یوه محکوم وروستۍ ورځ، وړوکی ناپیلیون او ...))

هوگو په "۱۸۸۵" زیږدیز کال کې ناروغ شو. ډېر خلک به یې پوښتنې ته راتلل. چې په پای کې د همدې کال د می په شلمه تاریخ د درې اتیا کالو په عمر ومړ. پخپله یې وصیت کړی و، چې: ”له خپلو شتو څخه ۵۰۰۰۰ فرانکه بېوزلانو ته بخښنم.زما جسد د فقیرانو په تابوت کې هدیرې ته ورسوئ.د کلیسا له دعا او بخښنې بېزاره یم. غواړم خلک راته دعا وکړي. پر خدای بشپړ ایمان لرم.“

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژوند درسونه

**احتیاط د پوهانو لومړنی شرط دی."هوگو"**

که پر هر کار بوخت یئ احتیاط خپل عادت وگرځوئ. یو بل لیکوال وايي، چې احتیاط باید په احتیاط کولو کې هم وشي. وارخطايي او سرعت د کار د چټکتیا لپاره ډېره مهمه ده؛ مگر احتیاط له سرعت څخه هم ډېر اړین بلل کېږي. که هر اقدام کوئ، د احتیاط لپاره باید د کار ټولې خواووې وسنجوئ ترڅو په راتلونکي کې له کومې ستونزې سره مخ نه شئ.

**هر ښوونځی مو چې پرانیست، د زندان یو ور مو وتاړه."هوگو"**

که جملې ته ځیر شو، فکر به وکړو چې د ښوونځي پرانیستل خو زموږ له وسې پورته کار دی. دا چاره په دولتونو پورې اړه لري، مگر په دې وینا کې یو بل پیغام هم پروت دی. که تاسو غواړئ خپل اولادونه له زندانونو او تیارو وژغورئ نو ښوونځي کې یې شامل کړئ. ترڅو په هر څه پوه شي. په لنډ ډول به یې ووایم، که پر خپلو اولادونو سرمایه گذاري کوئ نو ښوونځیو ته یې واستوئ ترڅو د جهل او ناپوهۍ دروازه وتړل شي.

**حیوانات له دې امله نېکمرغه دي، چې دوزخ ته نه ځي."هوگو"**

په دې جمله کې ډېر مهم پیغام دا دی، چې باید خپل آخرت او ابدي ژوند هېڅکله هېر نه کړو. ځینې ځوانان وايي، چې دوه ورځې ژوند دی، هر څه مو چې زړه وي باید ترسره یې کړو. مگر دوی په ناسمه دي. ژوند هېڅکله ددې لپاره نه دی، چې بېځایه یې تېر کړو. تل باید خپل رب په یاد ولرو او هېڅکله له مرگه وروسته ژوند هېر نه کړو. که همداسې وکړو نو تل به نېک کارونه کوو او ټولنې ته به مو هم خیر ورسي.

**ناکام خلک انرژي نه، بلکې هوډ او اراده نه لري."هوگو"**

آیا پوهېږئ چې د ناکامۍ اصلي لامل څه دی؟


هوگو یې درته ځواب وايي. هغوی چې هوډ نه لري ناکام وگړي دي. آیا داسې شوي، چې د یوه کار اراده مو درلوده مگر د لټۍ له امله درڅخه پاتې شوې وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که داسې شوي وي، د هوډ او ارادې له کمزورۍ سره مخ یئ. نو هڅه وکړئ چې د خپلې ارادې پیاوړتیا ته کار وکړئ. د ټولو خواوو له سنجولو وروسته چې هر کار ته اراده کوئ باید ترسره یې کړئ، که دا کارونه ډېر کوچني هم وي، مه یې پرېږدئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ویلیام شکسپیر



د نوموړي بشپړ نوم ویلیام شکسپیر William) (Shakespeareدی. دی هغه نامتو لیکوال او متفکر دی، چې په نړۍ کې داسې لوستي خلک ډېر کم دي چې له نامه سره به يې اشنا نه وي. همدارنګه ویل کېږي، چې په انګلستان کې داسې کورونه ښخی لږ دي، چې د شکسپیر کتاب دې په کې پیدا نه شي. دی اصلا د انګلستان دی. خو وخت ناوخت يې په اړه ځینې عجیبې څرګندونې هم شوي دي.

یو ځل د لیبیا ولسمشر (معمر قذافي) ویلي و، چې شکسپیر اصلا عرب و. خو کله چې انګرېزان د هغه په نبوغ پوه شول نو انګلستان ته يې یووړ . ددې ترځنګ ګڼې نورې عجیبې دعوې هم شوي دي، مګر بیا هم مؤرخین سره په یوه خوله دي او شکسپیر يې د انګلستان بللی دی. دا چې نوموړی د ښه فکر او حافظې خاوند و، نو ځکه خو يې خپل دینې کتاب په ډېر وړوکوالي کې حفظ کړی و .

دا چې د هغه وخت علوم اکثره په لاتیني ژبه ول نو شکسپیر هم یاده ژبه زده کړه او ګڼ فلسفي، ادبي او علمي کتابونه يې مطالعه کړل. د وخت په تېرېدو سره ترې لوی لیکوال او ډرامه لیکونکی جوړ شو. دا چې ډرامې يې ځانګړي فیلسوفانه رنګونه لري، نو ځکه خو يې له اکثرو فلمونه هم جوړ شوي دي. نوموړی یوازې یو ډرامه لیکونکی نه و، بلکې یو ښه شاعر هم و. اشعار يې تر اوسه هم ګڼ مینوال لري.

د زیږېدو او مړینې نېټه يې دقیقه معلومه نه ده. خو تاریخپوهان يې د مرګ نېټه "۱۶۱۶م" کال اټکلوي. د اولادونو په اړه يې ویل کېږي، چې درې زامن يې دلودل او درې واړه نالوستي وو. که څه هم د اثارو اندازه يې معلومه نه ده. خو اټکل يې ۳۷ ډرامې او ۱۵۴ عنوانه شعرونه دي .

### د ژوند درسونه

**پوچ او بې کماله سړی له تش لوښی ډېر شور کوي.**"شکسپیر"

آیا پوهېږئ چې له پورتنی جملې د شکسپیر موخه څه ده؟ نوموړی وایي، هغوی چې ډېر غږېږي پوچ او بې کماله دي. لومړی درس يې همدا دی، چې بې کماله خلک ډېر غږېږي. موږ پښتانه هم وایو، اسمان چې ځومره غورېږي هومره نه ورېږي. نو که تاسو هم ډېر غږېږئ، دا په دې معنا ده چې کوم خاص کمال نه لرئ. همدا اوس خپل ځان ته فکر وکړئ او په صداقت سره ځواب ووایئ. آیا ډېر غږېږئ!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ځواب مو هو وي، نو باید خپلې خبرې لږې او عمل ډېر کړئ. ځکه چې بریالي خلک ډېر کم غږېږي او په مقابل کې یې ډېر کار کوي. د خپل ژوند بدلون له همدې کوچنې گامه پیل کړئ.

**که نړۍ له ترخو ډکه شي، زه به یې د خوږو په هیلو وزغمم.**"شکسپیر"

که څه هم د ناهیلۍ ستونزه په ټوله نړۍ کې عامه شوې ده، مگر بیا په ځانگړې توگه افغانان له دې ستونزې ډېر کړېږي. نو څه کول په کار دي؟

جگړې، وژنې، ترور، غلاوې او سل و شل نورې ستونزې هغه څه دي، چې زموږ ژوند یې تریخ کړی دی. مگر شکسپیر وایي بیا هم باید یو څه خواږه ولرئ، هغه زموږ هیلې دي. تل ځان ته قناعت ورکړئ، چې هر څه به سم شي. یوه ورځ به دا ستونزې، مشکلات او جنگونه پای ومومي. یوه ورځ به ښه دنده ولرئ، کورنۍ ستونزې به مو حل شي. فقط همدا هیلې دي، چې ستاسو د ژوند تراخه په خوږو بدلولای شي.

**خدای تاته یو مخ درکړی، خو ته بل مخ غوره کوې.**"شکسپیر"

پورتنۍ جمله هم عجیب درس لري. شکسپیر وایي خدای ټولو انسانانو ته یو مخ ورکړی، نو هڅه وکړئ همداسې یو مخي اوسئ. اصلا لیکوال تاسو ته له منافقت څخه د لرې اوسېدلو وړاندیز کوي. ښه خبره ده چې یو مخي اوسو، د دوو مخو انسانانو ژوند تل له بې عزتۍ او شرمیندگۍ سره مخ وي. تاسو به هم ډېر دوه مخي انسانان لیدلي وي، آیا هغوی مو بد و ایسېدل؟

که ځواب مو هو وي، نو تاسو هم دوه مخي مه کوئ، ځکه چې تاسو به هم د خلکو بدې شئ او هم به الله "ج" درڅخه ناراضه وي. لکه څرنگه چې یئ هماغسې ځان وښیئ. که بیا هم دا ستونزه لرئ، مه خفه کېږئ. ځکه چې هېڅ انسان بې عیبه نه دی. خو اصلاح یئ کړئ. همدا تر ټولو غوره خبره ده.

**څومره چې صبر زیاتېږي، هومره دقت زیاتېږي او چې دقت زیات شي کامیابي زیاتېږي.**"شکسپیر"

په ژوند کې صبر لرل انسان د کامیابۍ تر لوړو پوړیو رسوي. نن سبا اکثره خلک وارخطا وي. دوی غواړي ژر زدکړې وکړي، ژر دنده واخلي او ژر پیسې پیدا کړي. په دې کار سره ددوی فکري تمرکزی گډوډېږي او په اسانۍ سره خپلو موخو ته نه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تاسو غواړئ خپلو موخو ته ورسېږئ نو صبر ولرئ. عجله د شیطان کار دی. څومره چې صبر کوئ هومره به ښې پایلې وینئ. هسې خو نه وایي چې ((د صبر مېوه خوږه وي.)) د صبر په نتیجه کې دقت رامنځته کېږي، دقت د کار ښه والی ښیي او ښه کار حتما بریالی وي. نو صبر ولرئ! صبر!

**حقیقي دوستي د غم او سختیو په ورځو کې وي.**"شکسپیر"

په ژوند کې د دوستانو لرل ډېر مهم وي. که تاسو هم ښه دوستان لرئ نو بختور یئ. مگر ستونزه دا ده، چې اکثره خلک ښه دوستان نه شي پېژندلای.

هڅه وکړئ ښه دوستان ولرئ، خو پوهېږئ ښه دوست چاته ویل کېږي؟ ځواب یې بېخي لنډ دی. ښه دوست هغه دی، چې په سخت وخت کې مو پرته له مطلبه لاسنیوی وکړي. همدرانگه هڅه وکړئ شناخته او دوستان سره بېل کړئ. د هر انسان په ژوند کې ډېر پېژندگلو وي، مگر مه هېروئ چې دوستان بیا ډېر کم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هوراس



هوراس د لرغوني روم يو ستر شاعر ګڼل کېږي. د نوموړی بشپړ نوم "کوينتوس هوريش فلاکوس" دی، چې په "٦٥-٨ ق.م" کې يې ژوند کړی دی. د زېږېدو ځای يې د لرغوني روم (اوسنی ایټاليا) وينوسيا ښار ښودل شوی دی.

هوراس د شاعرۍ ترڅنګ ډرامې هم ليکلې، چې اوولس آثار يې تر دې دمه سالم را رسېدلي. نوموړي ډېره عالي شاعري کړې ده او تر اوسه د خلکو په خولو کې ده. د ليکوالۍ په برخه کې يې هم خورا ښه ونډه درلوده.

### د ژوند درسونه

**له سبا ورځې نه څوک خبر دي؟ همدا نن ورځ په خوښۍ تېره کړه.**"هوراس"

که څير شو نو نوموړی هغه خلک ننګوي، چې تل د سبا په اړه فکر کوي. دا ډول خلک د سبا په اندېښنو کې د نن موقع له لاسه ورکوي. اوس تاسو فکر وکړئ او سم ځواب ووايئ، آيا تاسو هم راتلونکي ته اندېښمن يئ؟ که ځواب مو هو وي، نو دا کړنه همدا نن پرېږدئ. ددې چارې تاوان ډېر زيات دی. تاسو د سبا په اندېښنو کې د نن فرصت له لاسه ورکوئ او خپل ژوند د اندېښنو او تشويشونو قرباني کوئ. که ستاسو ملګري هم دا ستونزه لري، کولای شئ هغوی هم له دې ناسمې لارې را وګرځوئ.

**څوک چې کار پيل کړي، نيم کار يې پای ته رسولی دی.**"هوراس"

د جلمې ژورو ته که څير شو، نو خبره واضحه ده. ډېری خلک ښې مفکورې لري، پلان لري او پوهېږي چې بريالي کېږي. مګر بيا هم ترې کار پاتې وي. پوهېږئ اساسي علت يې څه دی؟ پيل! دا ډول خلک له پيله وېرېږي. که تاسو هم په ورته حالت کې يئ همدا اوس خپل امکانات وسنجوئ او په کار لاس پورې کړئ. دا خبره ستاسو په علمي، ټولنيز او کاري ژوند کې هم صدق کوي. ځينې خلک د درس، ځينې د اړيکو او ځينې نور بيا د کاروبار په شروع کولو کې د پيل له مرحلې نه شي تېرېدلای. اوس فکر وکړئ تاسو څه پلان لرئ؟ ځواب مو که هر څه وي پيل يې کړئ. ډېر ژر به د خپل فعاليت پای او پايله هم ووينئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

**د امپراتورۍ له اراده کولو څخه د خپل ځان اراده کول سخت دي.**"هوراس"

آیا لویې هیلې لرئ؟ د لویو کارونو د ترسره کولو ارادې لرئ؟ که ځواب مو هو وي نو لومړی باید پر خپل ځان حاکمیت پیدا کړئ. تاسو ته به پر ځان حاکمیت بېخي عجیبه ښکاري، مګر دا تر ټولو سخت کار دی. که تاسو پر خپل ځان حاکمیت پیدا کړ، ټولې نړۍ ته تغیر ورکولای شئ. آیا کله له خپلو غوښتنو تېر شوي یئ؟ که ځواب مو هو وي نو تر اوسه پر خپل ځان حاکمیت نه لرئ. ددې جملې شرحه ډېره لویه ده. خو په لنډ ډول ویلای شو پر ځان حاکمیت پر نړۍ حاکمیت دی. تاسو به فکر کوئ چې نړۍ خو ډېره لویه ده. حقیقت هم همدا دی، چې نړۍ ډېره ستره ده؛ خو زموږ موخه فردي نړۍ دي. موږ د سترې نړۍ ترڅنګ ځینې کوچنۍ نړۍ هم لرو. لکه خپله کورنۍ، قوم او هېواد هم زموږ د کوچنۍ نړۍ یوه برخه ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بالزاک



په اروپايي ادبياتو کې د ريالېزم د بنسټ اېښودونکو له ډلې يې هم بالزاک دی. د نوموړي بشپړ نوم (اونوره دو بالزاک) دی. دی په نړېواله کچه يو پېژندل شوی شخصيت دی. د خپل قلمي قوت اظهار داسې کوي: ((هغه څه چې ناپيليون د تورې پرمټ لاسته راوړل زه يې د قلم پر مټ ترلاسه کوم.))

بالزاک په (۱۷۹۹ز) کال کې د فرانسې په ((تور)) ښارگوټي کې دې نړۍ ته سترگې پرانيستلې. پلار يې د ښار مرستيال ښاروال و. بالزاک له څلور کلنۍ څخه په روزنتونونو کې روزل کېده. ځکه چې د والدينو اړيکې يې پخپلو کې ښې نه وې. د نوموړي مور له پلار څخه يې **۳۲** کاله کشره وه.

بالزاک يو څه زده کړې په ښوونځيو کې وکړې، بيا يې په يوه کالج کې ديني زده کړې هم پای ته ورسولې. وروسته يې په فرانسه کې د حقوقو پوهنځی ولوست او نږدې درې کاله يې د وکالت دنده هم پرمخ يوړه. وروسته يې د خپلو والدينو د خوښې خلاف ادبياتو ته مخه کړه. له ورځپاڼو سره يې دنده واخيسته. په دې توگه دا ستر ليکوال خپل اصلي مسير ته برابر شو او په نړېواله کچه وپېژندل شو. له گڼو ادبي لاسته راوړنو وروسته بالزاک په ((۱۸۵۰ز)) کال کې ومړ.

## ژوند درسونه

**انسان له ناهيلۍ مري او اروا له ډېرې خوښۍ.** "بالزاک"

يوازې د روح وتل د مړينې معنا نه لري. هرکله چې ناهيلي شوئ، په دې معنا چې تاسو مړه يئ. ناهيلي انسانان په ذهني لحاظ ځوربېري او هېڅ کار ته يې لاس نه ورځي. د بالزاک موخه دا ده، چې تاسو که ژوند غواړئ نو هيلې ولرئ او همدا ستاسو د ژونديتوب معنا لري. له هيلو پرته مړه يئ مړه!

همدا اوس له ځان سره فکر وکړئ، آيا تاسو هيلې لرئ؟ هيلې مو څه دي؟

که هره هيله لرئ، تاسو وته ژمن پاتې شئ او په ترلاسه کولو کې يې هېڅ دريغ مه کوئ. د جملې په بله برخه کې د ډېرې خوښۍ مسئله ده. پر له پسې خوښي له انسانه خپل رب هېروي او په دې توگه له اروايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړینې سره مخ کېږي. په لنډ ډول ویلای شو، په هر ډول حالاتو کې خپل رب مه هېروئ. که خوښ یئ یا خفه خپل رب ته رجوع کوئ.

**هېڅ وخت نه شئ کولای، چې د مور تر مینې رښتینې مینه پیدا کړئ.** "بالزاک"

په دې کې لوی پیغام هغوی ته دی، چې له خپلو میندو خفه دي. که ستاسو میندې ژوندي وي، بختور خلک یئ. د خپلې مور قدر وکړئ او مینه ورکړئ. ځکه چې په نړۍ د مور د مینې په څېر حقیقي مینه نه پیدا کېږي. که تاسو هرڅومره لویه تېروتنه وکړئ، مور مو بخښي او بیا مو هم ښکلوي، مگر نور انسانان هېڅکله دا خاصیت نه لري. نه مو ملگری او نه مو هم مېرمنه له لویې تېروتنې وروسته په اسانۍ بخښي.

**زیاتې خبرې د منافقت نښه ده.** "بالزاک"

د یوه لیکوال انسان د ژوند تجربه همدا ده، چې ډېرې خبرې د منافقت نښه ده. هغه انسان چې له موږ وړاندې تېر شوی او ډېر انسانان یې لیدلي دي. آیا تاسو داسې کوم څوک پېژنئ، چې ډېر غږېږي؟ که یې پېژنئ نو ویې څارئ حتما به بدنیتي درته لري. خو بیا هم کېدای شي دا خبره پر ټولو انسانانو صدق و نه کړي، مگر دا خبره واضحه ده، چې یوه انسانان ډېر نه غږېږي او چوپتیا یې اختیاره کړې وي.

**نابغه هغه څوک دی، چې خپل فکرونه په عمل کې وکاروي.** "بالزاک"

دلته نو باید یوه شئ چې ستاسو او د یو نابغه ترمنځ توپیر څومره دی. لږ دی ښېخي لږ. که تاسو هم د خبرو پر ځای عمل ډېر کړئ نابغه یئ. همدا اوس خپل پلانونه وسنجوئ او عمل پرې وکړئ نو ډېر ژر به د بریا او پرمختگ خوند وڅکئ.

د عادي او نابغه انسانانو ترمنځ توپیر ډېر لږ دی. عادي انسانان یوازې فکر کوي خو نابغه وگړي بیا خپلو افکارو ته د عمل جامه ور اغوندي. تاسو څه پلان لرئ؟ آیا خپل هدف او پلان لپاره مو عملا اقدامات کړي؟ که ځواب مو هو وي نو بریالي یئ او که نا وي نو ځان اصلاح کړئ. یوازې د فکر او خیال تر پولو محدود مه پاتې کېږئ، کار وکړئ او مثبتې پایلې یې وگورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لامارتین



د فرانسوي ژبې دا ستر لیکوال، شاعر او سیاستوال ((۱۷۹۰ز)) کال کې د فرانسې په ماکون کې وزیږېد. وروسته له یو څه سیاسي بدلونونو او کشمکو نوموړی اړ شو چې هېواد پرېږدي او ایټالیې ته لاړ شي. البته په دې وخت کې نوموړی شل کلن و.

کله چې حالات ښه شول بېرته خپل هېواد ته ستون شو او په سیاسي چارو کې یې هم فعالیتونه کول. دی دېرش کلن و، چې خپل لومړنی اثر یې خپور کړ. ددې کتاب نوم ((شاعرانه او مذهبي اندونه)) و. لامارټین (Lamartine) ځینې مهم آثار عبارت دي له: د سقراط مړینه، نوي رازونه، سمندرگی، ژولین او .... د یو لنډ شعر بېلگه یې:

درسره مینه لرم

پرته له دې چې په علت یې پوه شم

هغه مینه چې علت ولري

یا احترام دی یا ریا ده

## د ژوند درسونه

**تر ټولو نږدې شی مرگ دی او تر ټولو لرې هیلې او امیدونه دي.**"لامارتین"

انسان د خپل عجیب خاصیت له مخې تل خپل نږدې شیان هېروي او د خیال پر مټ ډېرو لرو څیزونو ته فکر کوي. مگر لامارتین انسان دې ته متوجه کوي، چې پام وکړئ! هیلې ډېرې لرې دي ډېرې! تر هرڅه نږدې ستاسو مرگ دی. هېڅکله یې له یاده مه باسئ.

له دې جملې بل لوی درس دا اخیستلای شو، هغه انسانان چې خپل مرگ نه هېروي نو کوښښ کوي، نېک کارونه وکړي ترڅو نورو ته یې خیر ورسي او بر عکس هغوی چې مرگ یې هېر وي، تقریبا هره گناه کوي. تاسو خپل مرگ تصور کړئ! څه احساس لرئ؟ نو نېکي کارونه وکړئ او د ښه اخلاق ولرئ ترڅو وروسته له مرگه هم بریالي اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وايي وخت طلا ده، مګر له بده مرغه له دې سرو د سربو پر ځای استفاده کېږي.** ″لامارتين″

د وخت په اړه ډېره مهمه خبره دا ده، چې بايد ضايع يې نه کړو، په داسې حال کې چې اوسني اکثره ځوانان خپل وخت بېځايه تېروي. همدا بېځايه تېرول دا معنا لري چې موږ طلا د سربو پر ځای کاروو. خپل وخت قيمتي کړئ! ايا پوهېږئ د وخت قيمتي کول څه معنا لري؟

واضحه خبره ده. له خپل وخت سمه ګټه پورته کړئ. هېڅکله يې بې ځايه مه تېروئ همدا د وخت قيمتي کول دي. د وخت قيمتي کولو تګلاره دا ده، چې مهالوېش ولرئ او خپل ټول کارونه د يوه منظم تقسيم اوقات تر چتر لاندې ترسره کړئ. کم خوب او د خوب پر ځای لوبې کول د وخت قيمتي کول نه دي، بلکې دا له ځان او خپل صحت سره ظلم دی. هېڅکله خپل صحت د وخت د قيمتي کولو په پار مه قرباني کوئ. مناسب خوب وکړئ، د خوړو پر وخت خواړه وخورئ او د کار په وخت کې کار وکړئ. همدا غوره تګلاره ده.

**غرور او تکبر هغه آس دی، چې پر هغو سپور کس د تباهۍ خواته وړي.** ″لامارتين″

په دې برخه کې لويه ستونزه دا ده، چې اکثره مغرور انسانان خپل غرور نه پېژني او يا هم دا نه مني چې غرور لري. انسان بايد خپل ځان ته رښتيني اوسي. تاسو ووايئ غرور لرئ؟ ممکن په داسې ساده ډول ددې پوښتنې ځوابول سخت وي. نو لاندې پوښتنو ته په صداقت سره ځواب ووايئ.

آيا کله مو ځان له نورو لوړ ګڼلی؟

آيا کله مو فکر کړی، چې کوم کار يوازې تاسو کولای شئ؟

آيا په نورو پورې خاندې او ملنډې وهئ؟

که ځوابونه مو هو وي، نو ووېرېږئ او توبه وکړئ. د غرور او تکبر ښکار شوي يئ. خو که ځوابونه مو نا وي نو بختور يئ خپل ژوند ته دوام ورکړئ. غرور د انسان د هلاکت سبب کېږي او هم به يې په آخرت کې عذاب ګالي.

**احتياط حتی په احتياط کولو کې هم لازم دی.** ″لامارتين″

تاسو احتياط څه ته وايئ؟ همدا چې هر څه ډېر ورو ترسره کړئ؟ نا! داسې نه ده. احتياط همدا دی، چې خپلو موخو ته هر اړخيز پلان جوړ کړئ. خو که ستاسو پلان او تګلاره ناکامېږي بديلې لارې هم ولرئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا احتیاط دی او لامارتین پر همدې خبرې ټینګار کوي. د چارو د ښه ترسراوي لپاره احتیاط لومړنی شرط دی. که تاسو احتیاط کوي ستاسو د کړنې بشپړېدل او بریا ۹۹ سلنه تضمینېږي. نو هڅه وکړئ په هر کار کې له احتیاطه کار واخلي.

دا وینا ستاسو په ټولنیز، کاري او کورني ژوند کې هم صدق کوي. په اړیکو، خبرو، عملونو، کارونو او بالاخره د ژوند په هره برخه کې احتیاط خپل عادت وګرځوئ تر څو چارې مو په سمه توګه مخته لاړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اناتول فرانس



دی د نوبل جایزې ګټونکی لیکوال دی. اناتول فرانس (Anatole France) په (۱۸۴۴ز) کال کې د فرانسې په پاریس ښار کې وزیږېد. دا چې پلار یې د یو ستر کتابپلورنځي خاوند و، نو اناتول د رسمي زده کړو ترڅنګ د مطالعې ښه فرصت درلود او نوموړي له دې فرصته ګټه اخیستله او پراخه مطالعه یې درلوده.

پراخې مطالعې دا فرصت برابر کړ، چې نوموړی یو ښه ادبي دریځ غوره کړي له همدې امله د فرانسې د علومو اکاډمۍ غړیتوب هم ترلاسه کړ. د نوموړي اثار اکثره فلسفي، انتقادي او طنزیه بڼه لري. مهم آثار یې عبارت دي له: د پرښتو سرکشي، وړوکی بوډا، د اپیکور باغ، ګناه او مینه او ...

### د ژوند درسونه

**خطا او اشتباه یو انساني کار دی، مګر تکرار یې حیواني کار دی.** "فرانس"

که د وینا ژورو ته ځیر شو، نوموړی انسانانو ته دوه پیغامه لري. په لومړۍ برخه کې هغوی ته ډاډ ورکوي، چې په کوچنۍ خطا سره ځوریږي او تل ورته خپل زړه خوري. موږ او تاسو باید دا ومنو چې انسان له سهوې او اشتباه خلاص نه دی. خو په دویمه برخه کې ټینګار کوي، چې تکرار اشتباه کول د بې عقلۍ ثبوت دی.

که تاسو کومه غلطي کوئ، باید تل د یوه درس په توګه په خپل ذهن کې ولرئ. که له خطاوو مو درس زده نه کړ، نو حتما به یوه ورځ د ناکامۍ په سیند لاهو شئ. په لنډ ډول به یې ووایم، که خطا کوو درس زده کوو، اما تکرار یې هېښنوونکی او نامناسب کار دی.

**که موږ په هر څه پوه شو، یو ساعت هم د ژوند تحمل نه شو کولی.** "فرانس"

ددې جملې په اړه فکر وکړئ او ووایئ چې د امانول موخه څه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یو څرګند حقیقت دی، چې څومره ډېر پوهېږئ هومره به ډېر ځورېږئ. ممکن د نومو‌ړي موخه دا هم وي، چې ډېرو خبرو پسې مه ګرځئ. په قران کریم کې هم ښکاره امر دی، چې ((ولا تجسس)) ژباړه: ((تجسس (پلټنه) مه کوئ!))

نو ویلای شو، چې هرڅوک دې یوازې د خپل ځان مسولیت واخلي. د نورو په کارونو کې کار لرل او یا د هغوی په عیبونو او یا هم امکاناتو په اړه معلومات پیدا کول یوازې او یوازې زموږ درد زیاتولای شي. همدا کافي ده، چې د خپلو کړنو ځواب ویونکي اوسو.

**خوښي له ژوند سره د جګړې تر ټولو ښه وسیله ده.** ″فرانس″

ستونزې، خفګان او فشارونه د انسان له ژوند سره تړلي مسایل دي؛ خو ددې ټولو پر وړاندې درېدل او استقامت په کار دی. که داسې و نه شي د ناهیلۍ په اوج کې خپل شته خوښي او ژوند له لاسه ورکولای شو.

ښاغلی فرانس وایي، چې خوښي ښه وسیله ده، چې ژوند پرې تېر کړو. خو اوس پوښتنه دا ده، چې خوښي څنګه جوړه کړو؟

زه یې ځوابوم. یو ځای مو لوستي وو: ((خوښي کوم ځای نه دی، چې ورشو او نه هم کوم څیز دی، چې و یې پیرو. بلکې یو ذهني حالت دی، چې جوړول غواړي.))

حقیقت همدا دی. موږ او تاسو اړ نه یو چې په خوښۍ پسې وګرځو. یوازې د ځینو کوچنیو تګلارو له لارې یې جوړولای شو. پوهېږئ هغه تګلارې کومې دي؟

- په هر هغه څه چې لرئ شکر وباسئ.

- تل له ځانه ښکته خلکو ته وګورئ.

- ځان بوخت وساتئ. (بېکاره مه ګرځئ!)

- تل له نورو سره همکاري کوئ.

- کوچنۍ خوښۍ ونمانځئ!

- ځان له نورو سره مه پرتله کوئ.

- د هغه څه په اړه فکر مه کوئ، چې نه یې لرئ، هغه څه وګورئ چې لرئ یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژوند یو امانت دی، چې خدای تعالی بشر ته ورکړی دی؛ دغه امانت په ښه ډول وساتئ!** ″فرانس″

د لیکوال موخه ښېخي واضحه ده. ژوند په رښتیا هم امانت دی او باید احتیاط ورسره وشئ. خو څه کول پکار دي، چې دا امانت په سمه توگه وساتو؟

که تاسو د خپلې روغتیا په اړه بې غوره یئ نو دا په دې معنا ده، چې تاسو په امانت کې خیانت کوئ. تر هر څه لومړی خپلې روغتیا ته پام وکړئ. عبادات، له نورو همکاري، صدقات او ورته نور نېک کارونه په هغه صورت کې کولای شو، چې له بشپړې روغتیا برخمن اوسو.

که لاندې کارونه کوئ، له ژوند سره خیانت کوئ!

- د وخت بې ځایه تېرول.
- ډېره غوسه.
- ورزش نه کول.
- عبادت نه کول.
- اصراف.
- قمار او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سارتر



د نړۍ دا نامتو فیلسوف، کره کتونکی او لیکوال هم د فرانسې هېواد اوسېدونکی و. د نوموړي بشپړ نوم ژان پل سارتر (Jean Paul Sartre) دی. دی په (۱۹۰۵م) کال کې په پاریس کې وزېږېد. دده کورنۍ لوستې وه. پلار یې د سمندري قواوو قومندان او مور یې د سولې په برخه کې د نوبل جایزې گټونکې مېرمنه وه. خو بدبختي دا وه، چې سارتر لا یو نیم کلن شوی نه و، چې پلار یې ومړ. تر دې وروسته مور یې خپل پلار کره لاړه او دی د نیکه تر روزنې لاندې پاتې شو.

سارتر له کتابونو سره مینه درلوده. همېشه به یې لیکل او لوستل کول. په ښوونځي کې یې هم ښه استعداد درلود. هلته یې ډېر ژر فرانسوي او الماني ژبې زده کړې. لوړې زده کړې یې په فلسفه کې وکړې او په همدې برخه کې یوه موده تدریس هم وکړ. د نوموړي ځینې مشهور آثار عبارت دي له: ادبیات څه شی دی؟، کلمات، هستي او نیستي، تهوع او ...

### د ژوند درسونه

**یو انسان د نورو انسانانو ثمره ده او په هماغه اندازه ارزښت لري، لکه نور انسانان یې چې لري.** ″ سارتر ″

ددې وینا تر شاه یو عالي پیغام پروت دی. سارتر وایي هېڅ انسان د کرکې وړ نه دی. که تاسو له کوم انسان کرکه کوئ نو لومړی خپل والدین او یا هم دکورنۍ غړي فکر ته راوړئ. آیا تاسو له خپلې کورنۍ کرکه کولای شئ. هېڅکله نا!

نو مقابل لوری هم یو انسان دی. لکه ته، لکه ستا ورو، خور او یا هم د کورنۍ بل غړی. نو مینه او ارزښت ورکړه. خو پوښتنه دا ده، هغوی چې بدې کړنې کوي د ارزښت او قدر وړ دي؟ هو! بیا یې وایم هو! هغوی هم د قدر وړ او ارزښتمن دي، چې بدې کړنې کوي. ځکه چې هېڅوک له موره ظالم او بدعمله نه وي پیدا شوي د وخت شرایطو او حالاتو بدو کړنو ته اړ کړي وي. یا هم ځینو ستونزو بې لاري کړی وي. نو باید ارزښت ورکړل شي او د خبرو له لارې یې اصلاح کول پیل شي. همدارنگه که بد نه وي د ښو په ارزښت هم نه شو پوهېدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**انسان هغه څه دی، چې دی یې له ځانه جوړوي.** "سارتر"

ځینې خلک هر څه په قسمت ورتپي. خو سارتر بیا ددې مفکورې خلاف دی. هغه وایي، چې که انسان پرله پسې هڅې او کوښښونه وکړي نو کولای شي خپلو موخو ته ورسي. تاسو څه کېدل غواړئ؟ څنګه غواړئ؟

پیل یې کړئ او خپلو موخو ته به حتما ورسېږئ. همدرانګه له دې وینا بله موخه دا هم ده، چې انسان د خپل فکر مطابق موقف ته رسي. که تاسو ځان ته لوړ فکر کوئ حتما به لوړو پوړیو ته رسېږې او که ټیټ فکر کوئ پرمختګ نه شئ کولای. یو ځای مې لوستي وو: په فکر کې اسمان ولرئ که آسمان ته و نه رسېږئ نو ستورو ته خو به حتما ورسئ!

**مړینه کافي نه ده، باید پر ځای ومرو.** "سارتر"


که څه هم ددې جملې مفهوم خورا واضح دی؛ خو بیا هم غواړم لږ وضاحت وکړم. ځینې خلک مرګ د قسمت کار بولي او د خپل ژوند په اړه بې غوره وي. خو داسې نه ده، تاسو باید تل د بدلون او پرمختګ مفکوره ولرئ. ژوند تر ټولو قیمتي څیز دی، باید ښه ساتنه یې هم وشي.

**له ټولو سره مې وفا وکړه او له هېچا مې د وفا تمه و نه کړه، په دې ډول آرام وم.** "سارتر"

د اروا پوهنې په وروستیو څېړنو کې له نورو تمه د ژور خفګان له اساسي عواملو څخه ګڼل کېږي. سارتر دا موضوع ډېره پخوا درک کړې ده. هغه وایي چې زه له چا تمه نه کوم، نو ځکه خو آرام یم. دلته موږ او تاسو ته پیغام دا دی، چې باید پرته له خدایه بل هېچا ته تمه و نه لرو. که تاسو تمه کوئ، نو حتما به خفګان هم وینئ. خو اصلي خبره دا ده، چې تل باید رښتوني اوسئ او په بدل کې له خلکو د رښتینولی تمه هم مه کوئ. حتی که هغه موږ ته نږدې ملګري هم وي. که مقابل لوري وفا کوي ویې ستایئ که یې نه کوي ترې تېر شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کامو



ددې فلسفي ليکوال بشپړ نوم البرت کامو (Albert Camu) دی. نوموړی په (۱۹۱۳ز) کال کې د الجزاير په مندر ښار کې وزېږېد. پلار يې فرانسوی او مور يې هسپانوی وه. دی يو کلن و، چې پلار يې په لومړۍ نړېواله جګړه کې ووژل شو. نوموړی په يوه بېوزله کورنۍ کې لوی شو. د فرانسې حکومت چې له بېوزلو سره مرسته کوله، ددوی کورنۍ هم پکې شامله شوه او کامو ته چانس پيداشو ترڅو ښوونځی ولولي. ده به د ښوونځي رسمي زده کړو ترڅنګ نوره مطالعه هم کوله. له ښوونځي وروسته يې حقوق پيل کړ خو په نري رنځ اخته کېدا او خراب اقتصادي وضعيت له امله ترې پاتې شو.

کله چې يې د ژوند حالت لږ ښه شو فرانسې ته لاړ. هلته يې له ليکوالو سره اړيکې پيدا کړې او د ژورنالېزم او ليکوالۍ په برخه کې يې کوټلي ګامونه واخيستل. د نوموړي مشهور آثار عبارت دي له: سقوط، د خوشحالۍ مرګ، طاعون، پردی او ... بايد ووايو، چې د ژوند ډېرو ستونزو هم د کامو کلکه اراده ماته نه شوای کړی او نوموړی تر دې حده خواري وکړه چې د نوبل جايزه يې هم ګټلې ده. بالاخره په ((۱۹۶۰م)) کال کې د يوې ترافيکې پېښې په ترڅ کې ومړ.

### د ژوند درسونه

**د انسان لپاره يوازې انسانيت بس دی.** "کامو"

انسان تل هڅه کوي، چې تر نورو مخکې شي. پرمختګ وکړي او خلک يې وستايي. که انسان هرڅومره لوړ موقف ته ورسي، بيا هم د لا پرمخګ غوښتنه کوي. خو کامو وايي، د انسان لپاره تر دې لوړ موقف بل نشته چې انسان دی. حقيقت همدا دی، چې د انسان لپاره همدا لويوالی بس دی. انسان ته اشرف المخلوقات له همدې امله ويل شوي دي.

دلته پوښتنه دا ده، چې انسان يعنې څوک؟

د انسان کلمې ريښه په (اُنس) کې ده، چې د مينې په معنا ده. موخه دا ده، چې انسان بايد تل له نورو سره مينه او همکاري وکړي. نو که غواړو په سمه معنا انسانان شو، بايد له نورو سره مرسته، زړه سوی او همکاري وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موږ مخکې له دې چې په فکر کولو عادت وکړو، په ژوند کولو عادت کوو.** ″کامو″

دا یو واضح حقیقت دی، چې انسان یو تقلیدي موجود دی. خبرې، ناسته پاسته او ورته نور مسایل له ماشومتوبه د تقلید په شکل زده کوي. په دې توګه انسان د فکر کولو پر ځای په رواجي کارونو عادت کیږي.

د لیکوال موخه دا ده، چې باید هر کار په فکر سره وکړو. ښه خبره هم همدا ده، چې هر کار په فکر او سوچ سره ترسره شي. که یو څا ته پور ورکوئ، نو لومړی فکر وکړئ، چې په پیسو څه کوي؟ آیا دا پیسې د سم کار په موخه اخلي یا هم نشه کوي؟


ټولنه کې زموږ رواج دا دی، چې که چا پور وغوښت د زړه سوی او احسان لپاره یې باید ورکړو. خو منطقي خبره دا ده، چې باید لومړی سوچ وکړو!

**ځینې وخت لږ څه غرور سړي سره مرسته کوي، چې خپل حد وساتي.** ″کامو″

دا خبره سمه ده، چې غرور او کبر ګناه ده. خو دلته له غرور څخه اصلي موخه دا ده، چې د ځینو ناروا کارونو د نه کولو په وخت کې خپل غرور وساتو. دا ستاسې د ځوانۍ غوښتنه ده چې نکاح او واده وکړئ. خو دا غرور دی، چې هېڅ پردۍ تورسرې ته په لارو کوڅو کې و نه درېږئ. نو دې غرور ستاسو حد وساته. مګر که تاسو دا کار کوئ، د یوې کړنې لپاره د خپلې ځوانۍ غرور له منځه وړئ. نو هڅه وکړئ په ځینو مواردو که له غرور نه هم مثبته ګټه واخلئ او خپل غرور وساتئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جان میلټن



جان ملیټن (John Milton) په (۱۶۰۸م) کال کې زیږېدلی. کورنۍ یې په اقتصادي لحاظ شتمنه وه. له همدې کبله یې په ښه ښوونځي کې زدکړې وکړې. له ماشومتوبه یې دا ارمان و، چې یو شاهکار اثر ولیکي. کله چې له ښوونځي فارغ شو نو د کمبریج په پوهنتون کې زدکړې پیل کړې.

دده لومړني اشعار په لاتیني ژبه وو؛ خو وروستي ټول آثار یې په انګلیسي ژبه وپنځول. د نوموړي تر ټولو مشهور اثر (ورک شوی جنت) نومېږي. نور مشهور آثار یې عبارت دي له: لاسته راغلی جنت، سیمسن اګونستن او ... له ښو ادبي پنځونو وروسته میلټن په (۱۶۷۴ز) کال کې ومړ.

### د ژوند درسونه

**ذهن پر خپل تخت ناست دی او کولای شي د خپل ځان دننه له جنت نه دوزخ او له دوزخ نه جنت جوړ کړي.**"میلټن"

خوښي او خفګان کوم ځای او څیز نه دی، چې ورشو او یا یې وپیرو. بلکې یو ذهني حالت دی، چې جوړول غواړي. د میلټن موخه هم همدا ده، په دې معنا ستاسو ذهن دی چې حالت مو بدلولای شي.

که تاسو له یوې ستونزې سره مخ شئ، نو هڅه وکړئ مثبتو اړخونو ته فکر وکړئ. اکثره ستونزې په فرصتونو هم بدلیږي؛ خو که پر تاسو یې منفي لوري اغېز وکړي نو ممکن کوچنۍ ستونزه لویه شي او لا ډېر وځورېږئ. نو په سختو حالاتو کې تل خپل فکر او ذهن په واک کې ولرئ. که داسې و نه کړئ، حتمي ده چې نامناسبې پرېکړې به کوئ او له ستونزو سره به مخ کېږئ.

**وینښ شه، پاڅېږه، که داسې و نه کړې ښایي تر ابده ولوېږې.** "میلټن"

په اوسني وخت کې دا خبره ډېره اړینه ده. اکثره خلک د لنډې مودې خوښۍ په پار خپل ابدي حالت خرابوي. کوښښ وکړئ تل اوږدمهاله فکر ولرئ. دا خبره په کورني، کاري او علمي ژوند کې د تطبیق وړ ده. هېڅکله احساساتي پرېکړې مه کوئ. بلکې په وینښه، په سوچ او تدبیر سره ولاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه تل باید د حالاتو تقاضا په پام کې ونیسئ. نننی زمانه له شل کاله وړاندې وخت سره ډېر توپیر لري. که تاسو له عصر او حالاتو سره سم خپل فکر چمتو نه کړئ نو د تل لپاره وروسته پاتې کېدای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ویلیام بلیک



د انګلستان هېواد ددې ستر ادیب او انځورګر بشپړ نوم ویلیام بلیک "William blake" دی. نوموړي په "۱۷۵۷زیږدیز" کال کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې. دی د نړۍ په یو لوی او مشهور ښار (لندن) کې وزېږېد. د مور او پلار په اړه يې ډېر څه نشته، خو خپله یې له یوې نالوستې نجلۍ سره واده کړی و. په ماشومتوب کې یې د ملتن آثار، لاتيني کتابونه، د شکسپير شعرونه، انجيل او د وخت ورته نور آثار يې لوستي و. رسمي زده کړې يې د انځورګرۍ په برخه کې کړې وې او په همدې برخه کې یې د تدريس چاره پرمخ وړله .بلیک په ژوند مئين انسان و؛ د نوموړي مېرمنه چې نالوستې وه، وکولای شول د بلیک په مرسته لوست او حکاکي زده کړي .مشهور آثار يې، "د تل کتاب"، "بیت المقدس"، "د تجربې غزلونه"، "د سپېڅلتيا غزلونه" یې مشهور آثار دي. له ګڼو ادبي او هنري فعالیتونو وروسته د اویا کلونو په عمر ومړ.

### د ژوند درسونه

**د یو دښمن بخښل، د یوه دوست تر بخښلو ډېر اسانه دی.** "بلیک"

انسان د ژوند په اوږدو کې له مختلفو خلکو سره مخ کېږي، له ځينو سره د خولې او له ځينو نورو سره یې د زړه اړیکې جوړې شي. هغوی چې له زړه ګران وي، ملګري وي. دا به تاسو هم تجربه کړې وي، چې د دوست بخښل ډېر سخت وي. ځکه چې له ملګرو د بدو پر ځای د ښو تمه کېږي، مګر کله چې ملګری بد درسره وکړي، انسان ډېر ناهيلی کېږي. او دا د انسان په فطرت پورې اړه لري، چې د توقع خلاف کار باندې ډېر دردېږي. خو څه فکر کوئ؟ ددې وينا موخه څه ده؟ آیا دوستان و نه بخښو؟

نا! هېڅکله هم نا! د ویلیام موخه دا ده، چې تاسو به هم حتما د نورو ملګري یئ، نو هڅه وکړئ، خپل ملګري خفه نه کړئ، ګنې بخښل به مو ستونزمن وي. هڅه وکړئ، تل وفادار اوسئ او نورو ته خير ورسوئ.

**هڅه وکړه، د غم او بدمرغۍ پر ځای د نېکمرغۍ او خوشحالۍ خبرې زیاتې په ژبه راوړې.** "بلیک"

د انسان د خفګان او ناهيلي ډېر سببونه موجود دي. یو له هغو لاملونو د غم او د خفګان د وخت په اړه خبرې کول دي. د افغانستان په څېر هېواد کې ژوند، په رښتيا هم سخت دی. هره ورځ وژنې، جنګونه، لوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سل نورې بدبختۍ زموږ او ستاسو روحي سکون ختموي. نو په داسې ماحول کې تل خپلې خوږې خاطرې له خلکو سره شریکې کړئ. تل د پرمختګونو په اړه وغږیږئ، هڅه وکړئ د خوښۍ کیسې مو وکړئ او په ذهن کې وګرځوئ. په دې توګه به ذهني آرامي وساتئ.

**په خپل دوست ته په غوسه وم، کله مې چې هغه ته د خپلې غوسې وویل، قهر مې ختم شو.** "بلیک"


موږ او تاسو په ټولنه کې ډېر خلک پېژنو، چې ټول زموږ ملګري نه دي. زموږ اکثره ځوانان د شناخت او ملګرو ترمنځ توپیر نه شي کولای او له پېژندګلو هم د ملګري په اندازه تمه لري. هڅه وکړئ، خپل ملګري او پېژندګلو ترمنځ پولې واضحې کړئ. ستاسو به پوښتنه دا وي، چې ملګری څنګه وپېژنو؟

نورې خبرې ډېرې دي، چې ملګری باید کوم خصوصیات ولري؛ خو هغوی چې تاسو ورته غوسه وئ او په لیدو مو غوسه ختمه شوه، یا هم تاسو ته غوسه وو او ستاسو په لیدو وخاندي پوه شئ، چې له یو بل سره مینه لرئ.

همدارنګه ددې وینا بله مهمه برخه یو بل پیغام هم دی. له دې وینا بله موخه دا ده، چې هېڅکله په زړه کې خبرې مه ساتئ، پټې خبرې، شک زېږوي او شک د اړیکو د خرابېدو سبب کېږي. که هر چاته غوسه یئ او یا هم په اړه یې قضاوت کوئ، کوښښ وکړئ لومړی ترې وپوښتئ او خبرې ورسره وکړئ، ترڅو شته شکونه او بدګمانۍ له منځه لاړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بایرون



د انګلېسي ژبې ددې ستر شاعر او لیکوال بشپړ نوم جورج ګورډن بایرون (George Gordon Byron) دی. دی د انګلستان په ډوور ښار کې په (۱۷۸۸م) کال کې زېږېدلی. لومړنی اثر یې ((د فراغت شېبې)) نومېږي. البته په دې وخت کې یې عمر نولس کاله و.

نوموړي له سفر سره هم علاقه درلوده او ګڼو اروپايي هېوادونو ته یې سفرونه کړي دي. مهم آثار یې د قضاوت نظر، زما اروا په تیاره کې، جنت او څمکه او ... نومېږي. نوموړي ډېر عمر نه دی کړی او په (۱۸۲۴ز) کال کې د شپږدېرش کالو په عمر د ورپېښې ناروغۍ له امله ومړ.

### د ژوند درسونه

**ویاړ د وینو په تویلو کې نه دی، د اوښکو په وچولو کې دی.** "بایرون"

دلته له وینو تویلو څخه رښتیا هم د نورو خلکو د وژلو معنا نه ترلاسه کېږي؛ بلکې د بل د ځورولو، ربړولو او خفه کولو مفهوم هم په کې نغښتی دی. د لیکوال موخه دا ده، چې باید نور خلک و نه ځورو او هېڅکله یې و نه رټو. ددې پر ځای یې باید اوښکې وچې کړو. مینه ورکړو او پر شونډو یې مسکا راولو. د ژوند خاص خوند او سکون هم په همدې کې دی، چې د نورو لاسنیوی وکړو او اوښکې یې وچې کړو.

**ستا ټول وخت خپل نه دی، نور هم په کې برخه لري؛ هماغه ډول لکه ته چې د نورو په وخت کې برخه لرې.** "بایرون"

ځینې خلک تل ګوښه ګیر وي، له نورو لرې او یواځې اوسي. دا کار نامناسب دی. انسان ټولنیز موجود دی، نو باید له نور وګړو سره په اړیکه کې پاتې شي. لکه څنګه چې خلک تاسو ته وخت او مینه درکوي، همداسې نور خلک هم ستاسو مینې او وخت ته اړتیا لري. ټولنیز ژوند په دوه طرفه اړیکو ټینګ دی. پښتانه وايي: بازار ته څه وېسه او څه راوړه.

ژوند په دې نه کېږي چې تل دې نور ستا خیال وساتي او خپل ارزښتناک وخت له تا ځار کړي. په بدل کې تاسو هم باید نورو ته خپل وخت ورکړئ، حال یې واخلئ، د زړه خواله وکړئ او یو بل درک کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه ځيني خلک له خپلوانو، ملګرو او نورو هغو خلکو چې اړيکې ورسره لري، لرې ګرځي. تل يواځېتوب خوښوي او په دې توګه ځان ورته بې ارزښته ښکاري. دوی ته پکار ده، چې خپله خپل ځان ته ارزښت ورکړي.

انګرېزان وايي، که غواړې محترم شې نو اول د نورو احترام وکړه. موخه دا ده، چې که غواړې نور مو وپالي تاسو يې هم وپالئ. انساني ژوند ته په کتو بله ډېره مهمه خبره دا ده، چې ستاسو عمر يوازې ستاسو نه دی. په دې کې د ملګرو، کورنۍ، مېرمنې، خپلوانو او ګڼو نورو خلکو برخه موجوده ده. بايد د هغوی برخه وسپارئ!

**ولې نېکمرغي او برياوې، چې زما د ژوند ته راغلې، له هغو دروازو راننوتې چې ما کلک بند کړې وو.** "بايرون"

ځيني خلک به ددې جملې په سم مفهوم پوه نه شي؛ خو ډېر لوړ فکر په کې پروت دی. موږ ځيني ځيزونه عادي ګڼو، حال دا چې همدا زموږ د ژوند اساسي برخه جوړوي. مثلا موږ تا دا ارزښت نه لري، چې نن مې څه وکړل. خو همدا نننې کارونه د سبا ورځې بريا تضمينوي. نو هڅه وکړئ، په ژوند کې د کوچنيو کارونو په ارزښت پوه شئ. زه تل دا خبره کوم، دې ته مه ګورئ چې ستاسو سرعت څومره دی. خو دا بايد تل وګورئ، چې روان يئ او که نا! درېدل مه کوئ، روان اوسئ که ډېر ورو هم وي.

ددې جملې بل اړخ دا دی، چې هېڅ فرصت له لاسه مه ورکوئ، په ژوند کې هېڅ فرصت عادي مه ګڼئ. ممکن همدا وړوکی ګام ستاسو ټول ژوند بدل کړي. د فرصتونو په اړه ويل کېږي، چې د بنګړو په څېر دي. که مو پام ورته وکړ شته، او که لغته مو ورکړه بيا هېڅ نشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توماس الیوت



توماس الیوټ (۱۸۸۸ز – ۱۹۶۵ز) په امریکا کې زیږېدلی. نوموړی له یوې شتمنې کورنۍ سره تړاو لري. پلار یې سوداګر او مور یې لوستې مېرمنه وه. الیوټ پر یوناني، لاتیني، فرانسوي او انګلیسي ژبو برلاسی و. همدا وجه وه، چې نوموړي ډېره مطالعه هم درلوده. الیوټ په هاروارډ، اکسفورډ او سوربن مشهورو پوهنتونونو کې تر دوکتورا زدکړې کړې وې. یو ښه شاعر، کره کتونکی او لیکوال و.

د مشهورو آثارو نومونه یې عبارت دي له: د کره کتنې پولې، ویجاړ وطن، د یوې عیسوي ټولنې فکر، جنایت په کلیسا کې، د پردیو خدایانو په لټه کې او ...

### د ژوند درسونه

**د ژوند تېرېدلو ماته دا رازده کړل: انسانان معمولا هغه څه له لاسه ورکوي، چې د هغوی له درلودلو ډاډمن وي.** ”الیوت“

آیا عجیبه نه ده، چې انسان پخپل ژوند کې هغه څه له لاسه ورکړي، د کومو له شتونه چې ډاډه وي؟ هو عجیبه ده! خو په دې کې موږ ته یو لوی درس هم پروت دی. لومړی خو ددې لامل باید پوه شو، چې ولې باید انسان هغه څه له لاسه ورکړي، چې له موجودیت یې ډاډه وي. ځکه چې انسان د هغو څو پر وړاندې ډېر بې غوره وي، چې لري یې. مثلا اکثره انسانان د خپلو سترګو، غاښونو او د بدن د نورو غړو صحت ته پام نه کوي، په دې توګه د وخت په تېرېدو سره له لاسه ورکوي. موخه دا ده، چې انسان د هغو څیزونو پر وړاندې ډېر بې غوره وي، چې لري یې.

له دې موخه دا ده، چې خپله زیاته توجه هغه څیزونو ته کړئ، کوم چې همدا اوس یې لرئ باید ویې پالئ او مینه ورکړئ. په دې کې ستاسو بدن، کورنۍ، ملګري او نور ګڼ خلک/څیزونه شاملېدای شي.

**انسان ډېر رښتیا نه شي زغملی.** ”الیوت“

څه فکر کوئ، له دې جملې موخه دا ده، چې رښتیا و نه وایو؟

نا! هېڅکله هم نا. تاسو باید هڅه وکړئ، چې رښتیا ووایئ؛ خو هغه رښتیا چې تېر شوي او تاسو ځوروي، تېر شي ترې، ډېر فکر پرې مه کوئ. ممکن تاسو په ژوند کې ځینې ترخې خاطرې درلودلې وي. دا یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت/رښتیا دی. نو که په اړه یې بار بار فکر کوئ، زغم مو ختمېږي او حتما مو ذهني سکون له منځه وړي.

بل مهم درس په کې دا دی، چې تل رښتیا د رښتیا په بڼه مه وایئ. کوښښ وکړئ، که پر چا انتقاد هم لرئ، د ټوکو، نصیحت او مینې په انداز ووایئ. که ډېر واضح او انتقادي وغږېږئ ممکن ملګری مو درڅخه خفه شي. نو په دې برخه کې هم باید ډېره توجه وکړئ.

**ټول دنیا ته رښتیني راځي، خو ټول له دنیا رښتنیني نه ځي.** "الیوت"

دا یو حقیقت دی. انسانان نړۍ پاک، معصوم، سپېڅلي او رښتیني راځي؛ مګر دېر کم خلک بېرته همداسې ځي. په نړۍ کې شته خواهشات، موخې، خوندونه او ځینې نور عوامل ددې سبب کېږي چې انسان بې لارې شي. خپله رښتینولي او سپېڅلتیا له لاسه ورکړي.

وایي کوچنۍ نجلۍ او هلک لوبې کولې. نجلۍ سره یوه اندازه خواږه او هلک سره توشلې وې. هلک وویل زه به مې ټولې توشلې درته درکړم او ته ټول خواږه ماته راکړه. نجلۍ ومنله. هلک یوه غټه توشله پټه کړه. نور یې نجلۍ ته ورکړل. خو نجلۍ په ژمنه وفا وکړه. ټول خواږه یې هلک ته ورکړل. نجلۍ ټوله شپه توشلې په خوب کې لیدلې، خو هلک هېڅ خوب ونکړ. فکر یې کاوه، چې نجلۍ به حتما څه خواږه به ترې پټ کړي وي.

دلته موخه دا ده، چې سکون د صادقو خلکو په برخه دی. هڅه وکړئ، تل صادق اوسئ او ددې او هغې نړۍ بریا مو تضمین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ويرجينيا وولف



د ناول ليکنې د عصري سبک بنسټ ايښودونکې ويرجينيا وولف (Virgnia Woolf) په لندن کې زېږېدلې ده. د نوموړې د زېږېدو کال (۱۸۸۲م) دی. کورنۍ يې لوستې وه. پلار يې تاريخ ليکونکی و او مور يې هم په څو ژبو برلاسې وه. له همدې امله ددې کورنۍ خپل ماشومان ښوونځي ته نه لېږل او خپل يې ورته درس ښوده.

نوموړې د ليکوالۍ په برخه کې خورا عجيب خوی درلود. هېڅ ډول نيوکه يې نه شوای زغملای. اکثره به چې يې آثار خپاره شول نو وولف به د نيوکو له وېرې سخته ناروغه کېده. وولف رواني ناروغي لرله، تل به له ژور خفگان سره مخ به وه. بلاخره له همدې امله يې ځانوژنه وکړه او له مرگ درې ورځې وروسته يې مړی په سيند کې وموندل شو. په داسې حال کې چې تيرې پر خپلې ملا پورې تړلې وې.

## د ژوند درسونه

**انسان نه شي کولای، له ژوند څخه د اجتناب او نفرت په صورت کې آرامۍ ته ورسېږي.** "وولف"

دا چې انسان ټولنيز موجود دی، نو معلومه خبره ده چې د ټولنې ناخوالې د انسان په روان اغېز کوي. د افغانستان په څېر هېواد کې چې هره ورځ وژنې، چاودنې او سل نورې اندېښنې موجودې وي، حتما به انسان له ژونده زړه توری کېږي. خو څه کول په کار دي؟ ايا له ژونده کرکه موږ ته سکون راکوي؟ نا! هېڅکله نا! د يوه ذهين انسان د ژوند تجربه همدا وايي.

هڅه وکړئ، چې ښه ژوند وکړئ. ښه ژوند دا نه دی، چې تاسو دې ډېرې پيسې ولرئ. يوازې همدا ښه ژوند دی، چې نورو ته مو خير رسېږي. يوه مسکا د بل زړه خوشحالولای شي. نو ولې يې نه کوئ؟ ځينې وړيا خوښۍ او ثوابونه شته، ترلاسه يې کړئ؟

ژوند ښکلی دی، ښکلی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هېڅ يو نوښتګر ليکوال نه شي کولای، د خپل عصر بل نامتو ليکوال وزغمي.** "وولف"

هر انسان ځينې سيالان لري. د هغوی زغمل کوم آسانه کار نه دی. ليکوال، آهنګر، مامور، قاضي او بل هرڅوک خپل سيال تر خپله ځانه مخکې او نوموتی نه شي زغملای. څه فکر کوئ، د وولف موخه له دې جملې څه ده؟

ويرجينيا وولف وايي، دا د انسان خاصيت دی، چې خپل سيال نه شي نه زغملای نو له دې خاصيته سمه ګټه پورته کړئ. سيال مو نه شئ زغملای؟ که ځواب مو هو وي، نو همدا اوس پاڅېږئ او حرکت وکړئ يو تېز حرکت چې له خپله سياله مخکې شئ. که همداسې مو وکړل نو تاسو د انسان له دې خاصيته سالمه ګټه پورته کړه او که يوازې مو خپل زړه وخوړ او يا مو مقابل کس ته کندې وويستې نو په ناسمه روان يئ.

**له څه شي، چې وېرېږم هغه دا دي، چې د يوه ناځيزه او بې ارزښته انسان په څېر هېره شم.** "وولف"

انسانان مختلف خاصيتونه لري. ځينې يې ګوښه ګير او ځينې نور يې بيا غواړي نوم يې تل پاتې وي. تاسو که په هره ډله کې يئ دا وينا تاسو ته يو درس دی.

ولې بايد هېر شئ؟ بې شمېره انسانان نړۍ ته راځي. ولې ډېر لږ يې خپل نوم پرېږدي. پوهېږئ هغوی څه کړي دي؟ په دې کې دوه درې ډله خلک وي يو هغه چې بشر ته يې خير رسېدلی وي، دويم هغه چې بشر يې له شر سره مخ کړی وي، درېيم هغه ډله خلک دي چې يو عجيب کار يې کړی وي. تاسو په لومړۍ ډله کې ځان حساب کړئ. همدا نن فکر وکړئ چې بشر ته څه کولای شئ. آيا فکر کوئ ټول انسانيت ته خير رسول ستاسو له وسې پورته خبره ده. نو کولای شئ خپلې کورنۍ، کلي او ولسوالۍ ته يو د خير کار وکړئ. په دې ډول به تاسو پر ځان باور پيدا کړئ او په پای کې به ټول بشر ته د خير رسولو فکر ولرئ. ومرئ خو بې نومه مه مرئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جورج اورویل



اورویل د انګلستان پیاوړی ناول لیکونکی او کره کتونکی دی. د زیږېدو نېټه یې (۱۹۰۳ز) کال دی. که څه هم دی په هند کې زیږېدلی و (هغه وخت هند د انګلستان مستعماره و) خو زدکړې یې په انګلستان کې وکړې. نوموړي له ژورنالېزم او ادبیاتو سره ډېره مینه درلوده.

که څه هم لومړني آثار یې ډېر و نه ستایل شو؛ خو کله چې د ((څناورو فارم)) او ((وروستی سړی)) آثار خپاره شول نه له ښه شهرت یې وموند او ډېرو خلکو یې لیکنې وستایلې.

### د ژوند درسونه

**جهالت دومره څواکمن دی، چې کولی شي جنګ، سوله او غلامي، آزادي وښيي.** ”اورویل“

انسان طبیعتا داسې جوړ دی، چې خپله ملامتیا نه مني. همدې ته د جهالت نوم ورکولی شو. دې عملیې ته په ارواپوهنه کې ((پره جکشن)) وايي. په لنډ ډول داسې ویلای شو، چې د نورو ملامت ګڼلو او ځان پاک ګڼلو ته پره جکشن ویل کېږي؛ خو هغوی چې پر دغه حالت برلاسي شي بریالي انسانان ځنې جوړېږي.

دا عامه خبره ده، چې جاهل پر خپل جهالت نه پوهېږي. خو داسې تګلاره شته، چې خپل جهالت وپېژني. لاندې پوښتنې څواب کړئ!

- آیا تاسو ځان تر ټولو هوښیار ګڼئ؟
- تل په نورو نیوکې کوئ؟
- کله چې کوم کار خراب کړئ، منکرېږئ؟
- آیا خپله ملامتیا په نورو تپئ؟ په داسې حال کې چې پوهېږئ خپله ملامت یئ؟

که مو پورته پوښتنې په ”هو“ څواب کړي وي، نو باید پر خپل ځان کار وکړئ او له دې جهالته ووځئ. هېڅکله دروغ مه وایئ، خپله ملامتیا منئ او بخښنه غواړئ. پر نورو د نیوکو پر ځای پر خپلو عیبونو فکر وکړئ. که بیا هم پر چا انتقاد لرئ، باید په بدیل کې یې د اصلاح لاره هم وروښیئ. یوازې نیوکې کول د جاهلانو کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**هغه خلک چې فاسد سیاستوال ټاکي، قربانیان نه دي، بلکې د جرم شریکان دي.** "اورویل"

د پورتنۍ وینا تحلیل دومره سخت هم نه دی؛ مګر بیا هم غواړم ځینو ټکو ته ستاسو پام واړوم. په ټاکنو کې تر هر څه لومړی شخص وپېژنئ، څوک دی؟ انسانیت ته څومره درنښت لري؟ فاسد خو به نه وي؟ دا او دې ته ورته نور مسایل باید ځان سره ولیکئ او پلټنه وکړئ. د خپل ځواب مطابق باید رایه وکاروئ. خو آیا دا خبره یوازې په سیاسي مسایلو کې د تعامل وړ ده؟

نا! په دې باید پوه اوسئ، چې تاسو په ډېرو کوچنیو مسایلو کې هم دې ټکو ته پام وکړئ. د کورنۍ مشر هېڅکله د هغه د عمر په لحاظ مه ټاکئ، بلکې استعداد ته په کتو باید پرېکړه وکړئ. همدارنګه که د کلي ملک، د ځوانانو مشر یا بل هرڅوک ټاکئ، لومړی باید همدې ټکو ته ډېره توجه وکړئ. د کلي ملک ته هېڅکله د خپلوۍ له امله رایه مه ورکوئ، نه هم کوم بل څوک د ملګرتیا له امله د مشرۍ لپاره غوره وبولئ. یوازې او یوازې دې ته فکر وکړئ، چې مقابل شخص څومره د ټولنې په خیر دی او پرېکړه وکړئ. که داسې مو و نه کړل، حتمي ده چې کوم نامناسب کس به مشرۍ ته ټاکل کېږي او د نوموړي په هر ډول فساد کې تاسو هم شامل یئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## گویته



د نوموړي بشپړ نوم (یوهان ولفانګ ګویته) دی. ګویته یو ښه لیکوال، نقاش، محقق او فلسفي شاعر و. هغه په (۱۷۴۹ز) کال کې د المان په فرانکفورت کې وزیږېد. پلار یې په شاهي دربار کې دنده کوله. کله چې ګویته ښوونځی بشپړ کړ پلار یې هغه د حقوقو زده کړې لپاره لایپزیک پوهنتون ته ولېږه. که څه هم حقوق یې ولوستل خو ډېره علاقه یې له ادبیاتو سره وه او په همدې برخه کې یې ښه ځای وموند.

مشهور آثار یې د رنګونو تیوري، شرقي دېوان، د مړو نڅا، فاوسټ، د یوې پاکې اروا اعتراف او ځینې نور دي. ګویته په (۱۸۳۲م) کال کې له دې نړۍ سترګې پټې کړي دي.

### د ژوند درسونه

**هېڅ کار مه پیلوه او که پیلوی یې بیا خپل ټول توان په کې وازمویه.** "ګویته"

اکثره وګړي کارونه پیل کړي؛ خو بیا یې په نیمه کې پرېږدي. پوهېږئ علت یې څه دی؟ همدا چې خپل ټول زور او توان په کې نه مصرفوي. که تاسو هر کار کوئ، لومړی باید یو ښه، بشپړ او منظم پلان ولرئ. له بشپړ پلان موخه دا ده، چې که لومړنی پلان مو ناکامېږي دوهم هم باید ولرئ ترڅو خپل هدف ترلاسه کړئ. همدارنګه کار باید له پوره انرژۍ او مینې سره پیل کړئ. که تاسو له خپل پیل کړي کار سره له زړه مینه ولرئ، حتمي ده چې بریا به مومئ. نو بیا هم تکرار راوړم: هېڅ کار مه پیلوه! که پیلوې یې بیا خپل ټول توان په کې وازمویه!.

**خبرې کول اړتیا ده، غوږ نیول هنر دی.** "ګویته"

په ټوله نړۍ کې هڅه کېږي، چې ښه وغږېږو؛ خو ډېر کم خلک په دې اړه فکر کوي، چې څنګه ښه غوږ نیونکی اوسي. همدا لږ خلک بیا ښه ویناوال هم شي. یعني که تاسو غواړئ ښه ویناوال شئ نو لومړنۍ هڅه مو باید دا وي، چې ښه غوږ نیونکي اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومنئ چې خبرې کول زموږ اړتیا ده، ترڅو خپلې غوښتنې، احساسات او نور اړوند مسایل روښانه کړو. خو هغوی چې غوږ نیسي او خبرې مو اوري دا یو لوی هنر دی.

**راتلونکې ته تصمیم ونیسه، هڅه وکړه مګر ژوند ورته مه کوه!** "ګویته"

څه فکر کوئ، د ګویته موخه به څه وي؟ ژوند و نه کړو؟

نا! داسې نه ده. ګویته نه وایي، چې ژوند مه کوئ. نوموړی وایي چې ژوند وکړئ خو هېڅکله خپل ژوند په خپلې موخې پورې مه تړه. فکر وکړئ، تاسو تصمیم ونیوه، چې ډاکټر شئ، هڅه مو هم وکړه، مګر و نه توانېدئ. نو له ژونده ورته تېرېږئ؟ نا!

باید ځان قانع کړئ، چې ممکن په دې کې مو خیر نه و. هېڅکله باید په یوه موخه کې د نه بریالیتوب له کبله د خفګان او ناهیلۍ احساس ونه کړئ. خپل موخې او اهداف ولرئ او که په ترلاسه کولو کې یې نه بریالي کېږئ ماتې مه منئ، ژوند وکړئ، نورې موخې وټاکئ او ترلاسه یې کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

**خپلې نیوکې، وړاندیزونه او ارزښتناکې سپارښتنې پر لاندې برېښنالیک راولېږئ!**

**درنښت**

[r.muqamzai@gmail.com](mailto:r.muqamzai@gmail.com)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**